**بسم الله الرحمن الرحيم**

## پوښتنې ته ځواب

## ايا د خلافت د تاسيس د هغې طريقې لپاره چې حزب تحرير غوره کړې ده، قطعي دليلونه شته؟

**محمد ابو العسل ته**




**پوښتنه**

السلام عليکم ورحمته الله وبرکاته

امير صاحب، الله سبحانه و تعالی دې ستاسې په وخت، هڅې او پوهې کې برکت واچوي.

زه يوه پوښتنه لرم: ايا د خلافت د تاسيس د هغې طريقې لپاره چې حزب تحرير غوره کړې ده، قطعي دليلونه شته؟

**ځواب:**

وعليکم السلام ورحمته الله وبرکاته.

**په ټوليزه توگه، د دريو پړاوونو لپاره قطعي دلايل شته:**

رسول الله (صلی علیه و سلم) د دعوت په لومړیو کې کابو د دریو کلونو لپاره پټ دعوت کاو. ده (صلی الله علیه و سلم) د ارقم ابن ابي الارقم په کور کې مسلمانان تثقیفول. مگر د لاندې آیت تر نازلېدو وروسته، ده (صلی الله علیه و سلم) خپل دعوت څرگند کړ:

**﴿فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ﴾**

[الحجر:۹۴]

*ژباړه: نو ته په زغرده بیان کړه هغه څه چې تا ته یې امر شوی دی او له مشرکانو څخه مخ واړوه.*

د پورتني ایت قطعي الثبوت دی او په دلالت کې هم قطعي(قطعي الدلالة) دی، ځکه رسول الله صلی علیه و سلم د یاد ایت تر نازلېدو مخکې په پټه دعوت کاوه او د یاد ایت تر نازلېدو وروسته یې خپل دعوت په ښکاره اعلان کړ، ده صلی الله علیه و سلم د دې پړاو په ترڅ کې **فکري او سیاسي مبارزه مخ ته وړله او د یاد پړاو په پای کې یې د طلب النصره (مادي ملاتړ) غوښتنه وکړه.**

**په فکري مبارزه کې،** د بتانو باطل عبادت ډاگېزه کېده او د کفر پر ضد دلایل وړاندې کېدل. بېلا بېل ایتونه یاده مبارزه ډاگېزه کوي، چې ځیني یې په لاندې ډول دي:

**﴿أَمْ خُلِقُوا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ أَمْ هُمُ الْخَالِقُونَ﴾**

[الطور:۳۵]

*ژباړه: ایا دوی له کوم خالق څخه پرته پیدا شوي دي؟ یا هم پخپله د خپل ځان پیدا کوونکي دي؟*

**﴿قَالَ أَتَعْبُدُونَ مَا تَنْحِتُونَ * وَاللَّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ﴾**

[الصافات:۹۵-۹۶]

*ژباړه: هغه وویل: ایا تاسې په خپل لاس د توږل شویو شیانو بندگي کوی. په داسې حال کې چې الله تاسې هم پیدا کړی او هغه شیان هم چې تاسې یې جوړوی.*

**﴿وَقَالَ اللَّهُ لَا تَتَّخِذُوا إِلَهَيْنِ اثْنَيْنِ إِنَّمَا هُوَ إِلَهٌ وَاحِدٌ فَإِيَّايَ فَارْهَبُونِ﴾**

[النحل:۵۱]

*ژباړه: او الله وویل: تاسو دوه خدایان مه نیسئ، خدای خو یو دی، نو تاسې خاص له ما نه و وېرېږئ.*

**﴿مَا اتَّخَذَ اللَّهُ مِنْ وَلَدٍ وَمَا كَانَ مَعَهُ مِنْ إِلَهٍ إِذًا لَذَهَبَ كُلُّ إِلَهٍ بِمَا خَلَقَ وَلَعَلَا بَعْضُهُمْ عَلَى بَعْضٍ سُبْحَانَ اللَّهِ عَمَّا يَصِفُونَ﴾**

[المومنون:۹۱]

*ژباړه: الله هيڅوک د خپل اولاد په توګه نه دي نيولي او له هغه سره کوم بل خدای نه شته. که داسې وای، نو هر خدای به خپل مخلوق بېل کړی وای او بیا به يې يو پر بل باندې برلاسي کول. الله له دغو خبرو څخه پاک دی چې دوی يې جوړوي.*

**﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ * اللَّهُ الصَّمَدُ * لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ * وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ﴾**

[اخلاص:۱-۴]

*ژباړه: ای نبي! ته دوی ته ووايه: چې الله يوازې يو دی. الله هيچا ته اړ نه دی. نه يې څوك زېږولی دی او نه هغه زېږول شوی دی. هيڅوك د هغه سيال نه شي کېدای.*

**﴿قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ * لَا أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ * وَلَا أَنْتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ * وَلَا أَنَا عَابِدٌ مَا عَبَدْتُمْ * وَلَا أَنْتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ * لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ﴾**

[الكافرون:۱-٦]

*ژباړه: ای نبي ته دوی ته ووايه: ای کافرانو! زه د هغو شيانو عبادت نه کوم چې تاسو يې عبادت کوی. نه تاسو د هغه ذات عبادت کوونکي ياست چې زه يې عبادت کوم. نه زه د هغه شي عبادت کوونکی يم چې تاسو يې عبادت کوی او نه تاسو عبادت کوونکي ياست د هغه ذات چې زه يې عبادت کوم. تاسو ته ستاسو دين دی او ما لره زما دين دی.*

**سياسي مبارزه:** داسې اياتونه نازل شول، چې د دوی پر عقيدو، مشرتوب او ګمراهيو يې نيوکې وکړې او ګڼ شمېر اياتونه دا واقعيت په ګوته کوي:

**﴿تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ * مَا أَغْنَى عَنْهُ مَالُهُ وَمَا كَسَبَ * سَيَصْلَى نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ * وَامْرَأَتُهُ حَمَّالَةَ الْحَطَبِ * فِي جِيدِهَا حَبْلٌ مِنْ مَسَدٍ﴾**

[المسد:۱-٦]

*ژباړه: د ابو لهب دواړه لاسونه هلاك شول او دی هم هلاك شو. د هغه شتمني او څه چې يې ګټلي و، هغه ته يې په درد و نه خوړل. ژر ده چې دی به لمبې وهونکي اور ته ننوځي. له هغه سره به يې ښځه هم د خسو د پنډونو راوړنکې وي، د هغې په غاړه کې به د خرماو له پوستکو څخه اوبدل شوې لويه کلکه رسۍ ده.*

**﴿ذَرْنِي وَمَنْ خَلَقْتُ وَحِيدًا * وَجَعَلْتُ لَهُ مَالًا مَمْدُودًا * وَبَنِينَ شُهُودًا * وَمَهَّدْتُ لَهُ تَمْهِيدًا * ثُمَّ يَطْمَعُ أَنْ أَزِيدَ * كَلَّا إِنَّهُ كَانَ لِآيَاتِنَا عَنِيدًا * سَأُرْهِقُهُ صَعُودًا * إِنَّهُ فَكَّرَ وَقَدَّرَ * فَقُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ * ثُمَّ قُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ * ثُمَّ نَظَرَ * ثُمَّ عَبَسَ وَبَسَرَ * ثُمَّ أَدْبَرَ وَاسْتَكْبَرَ * فَقَالَ إِنْ هَذَا إِلَّا سِحْرٌ يُؤْثَرُ * إِنْ هَذَا إِلَّا قَوْلُ الْبَشَرِ * سَأُصْلِيهِ سَقَرَ * وَمَا أَدْرَاكَ مَا سَقَرُ * لَا تُبْقِي وَلَا تَذَرُ * لَوَّاحَةٌ لِلْبَشَرِ * عَلَيْهَا تِسْعَةَ عَشَرَ﴾**

[المدثر:۱۱-۳۰]

*ژباړه: پربړده ما او هغه څوك چې ما یوازې پیدا کړل. بیا مې هغه ته ډېر زیات مال ورکړ او د دې ترڅنګ مې نامې زامن ورکړل. د هغه لپاره مو د مشرتابه لاره هواره کړه. بیا دی تمه لري، چې زه ورته نور لا زیات ورکړم. هیڅکله هم نه، پرته له شکه هغه زموږ له ایتونو سره ډېر عناد کوونکی دی. ژر به یې په سخت عذاب اخته کړم. هغه فکر وکړ او د خبرې جوړولو هڅه یې وکړه. پس دی دې هلاك کړی شي، ده څرنګه د خبرو جوړولو هڅه وکړه ؟ بیا دې دی هلاك کړی شي، څرنګه یې د خبرو جوړولو هڅه وکړه؟ بیا یې وکتل. بیا یې مخ تریو او تندی ګونځې کړ. بیا یې شا کړه او لویي یې وکړه. نو ده وویل: نه دی دا (قرآن) مګر داسې جادو چې له نورو ساحرانو څخه یې زده کړی دی. نه دی دا مګر د انسان خبرې دي. ژر به زه دی د دوزخ اور ته ننباسم. ته څه شې پوه کړې چې سقر (د دوزخ اور) څه شی دی. داسې اور دی چې نه یې پربږدي او نه یې خوشې کوي. انسان لره ډېر سوځوونکی دی. په هغه اور باندې نولس (ملایکې) ټاکل شوي دي.*

**﴿وَلَا تُطِعْ كُلَّ حَلَّافٍ مَهِينٍ * هَمَّازٍ مَشَّاءٍ بِنَمِيمٍ * مَنَّاعٍ لِلْخَيْرِ مُعْتَدٍ أَثِيمٍ * عُتُلٍّ بَعْدَ ذَلِكَ زَنِيمٍ * أَنْ كَانَ ذَا مَالٍ وَبَنِينَ * إِذَا تُتْلَى عَلَيْهِ آيَاتُنَا قَالَ أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ * سَنَسِمُهُ عَلَى الْخُرْطُومِ﴾**

[القلم:۱۰-۱٦]

*ژباړه: هیڅکله د یو داسې چا پیروي مه کوه، چې هغه زیات قسم خوړونکی او بې باوره وي. د نېکۍ منعه کوونکی دی، تېری کونکی دی، سخت بدعمله دی. ډېر بد خویه دی او د دې ټولو عیبونو تر څنګ حرامي دی. له دې امله چې دی د مال او زامنو خاوند دی. کله چې ده ته زموږ ایتونه ولوستل شي نو وایي: دا د لومړنیو خلکو قصې دي. ژر ده چې موږ به د ده په پزه باندې داغ کېږدو.*

رسول الله صلی الله علیه و سلم د طلب النصره (مادي ملاتړ) غوښتنه له هغو خلکو څخه کوله، چې د دفاع او ځواک خاوندان و. ده صلی الله علیه و سلم له ځواکمنو قومونو څخه د ملاتړ غوښتنه کوله او مصعب رضي الله عنه) یې مدینې منورې ته ولېږه او انصارو رضي الله تعالی عنهم ور ته مثبت ځواب ورکړ او دغه چاره د عقبې د دوهم ترون د لاسلیکېدو لامل شوه.

**رسول الله صلی الله علیه و سلم لومړی اسلامي دولت په مدینه منوره کې تاسیس کړ**

د یادو دریو پړاوونو دلایل قطعي دي، که څه هم د یادو دریو پړاوونو په ټړاو په جزیاتو کې ځیني ظني (غیر قطعي) شواهد شته، لکه: په پټه د تثقیف جزیات، په ښکاره د دعوت اعلانولو جزیات، د فکري او سیاسي مبارزې مخ ته وړلو په اړه جزیات، د هجرت او د عقبې دوهم ترون تر لاسلیکېدو وروسته د خلافت تاسیسولو په ټړاو جزیات. د یادو جزیاتو په ټړاو شواهد ظني او صحیح دي. هر هغه څوک چې زموږ کتابونه او رسالې لولي په څرګنده توګه د یادو دریو پړاوونو په ټړاو دلایل قطعي بیان شوي دي او د ځینو جزیاتو په اړه، چې شواهد یې ظني دي او هغه استنباط شوي دي.

له الله سبحانه و تعالی څخه غواړم، چې یاد موضوعات به ښه در ته روښانه شوي وي.

**ستاسې وروررعطا بن خليل ابو الرشته**

**ژباړن: صديق احمدزی**

**۱۴۳۹ هـق، د شوال ۱۷ مه**

**۲۰۱۸ م، د جولای (۱)**